


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

---



# انجینر محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : 25 دسمبر 2014 م

# ناکامه مینه

ستا د بنګړو مې کله شرنګ واوریده
خپل د زړګي مې یودم ترنګ واوریده

په منډو منډو کړکۍ خواته لاړم
کله آواز مې ستا د سنګ واوریده

ستا له پټ مخ نه ښکلې سترګې کتې
ستا د ښاسته ښو مې جنګ واوریده

تا څه ویلې اوښکې دې تویې شولې
ما لیونی پیغام بل رنګ واوریده

ویخ شوم یودم زړګی مې وریپیدو
ستا دکوژدې مې ډنګ و بنګ واوریده

توره تیاره شوه سپینه ورځ پما
کله د بخت مې تور آهنګ واوریده

ما محب منډه کړه په سپینه ږیره
پرون مې بیا دبنګړو شرنګ واوریده

انجینر محب الرحمن « خطیبي »

بازګشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org